د۱۳۸۱ لمریز دغبرگولي ۱٦

دافغانستان دبشري حقونو خپلواک کميسيون

# ستراتيژيک پلان

# او

# دعمل پلان

# ۱۳۸۹ـ۹۲ هـ ش

۱۳۸۸ کب

# د عمده اصطلاحا تو تعریف

| | |
|---|---|
| اوسنی وضعیت | اوسني وضعیت د یوه پلان اوسنیو شرایطو ته اشاره ده او د دي وضعیت د پیژندلو لپاره د کېفي او کمي مالوماتو څخه کار اخیستل کېږي. د موجوده وضعیت په اړه مالومات په یوه زمانې موده کې راټولېږي او له هغه څخه د کچې د معیار یا د کار دپایلې د ارزوني په موخه ګټه اخیستل کېږي موجوده وضعیت د هر شاخص لپاره اړین دي او شاخصونو د کار د پایلو د ارزوني لپاره کارول کېږي. |
| د مالوماتو د راټولولو کاردود | د مالوماتو د راټولولو کاردود څخه منظور او مراد د شاخصونوپه اړه د مالوماتو د راټولولو چلند دي. |
| مالوماتي سر چېنې | وګړي، سازمانونه او خپروني چې له هغو څخه د شاخصونوپه اړه مالومات راټولیږي. |
| شاخص | د کچې مالومولو یو واحد دي چې بایدپه یوه مقیاس یا پیمانه اندازه شي خو د دریځ بیانوونکې نه دي. شاخصونه خنثي کارکړني دي او دغوره وضعیت څرګندوي نه دي . |
| د کار کړنې د میچونې اډانه | له دي اډانې څخه د اړینو راټول شویو مالوماتو د تنظیم په موخه کار اخیستل کیږي چې د ټاکل شویو پایلو د پرمختګ، ثبات او ارزونې ښکارندویه وي. دا اډانه د منظمو مالوماتو راټولولو د کار کړني لپاره زمینه جوړوي او د لاسرسي د بهیرپه تعقیب د منتظره پایلو سره مرسته کوي. دا اډانه د ګډونوالو، مرسته کوونکو، کارکوونکو، او کله کله د ګټه اخیستوونکوپه مشوره طرح او پري څارنه کېږي. |
| بریاوی | دهغه بریا ووټولګه ده چې دپراختیایي په پایله کې لاسته راغلې ده. |
| موندنې | د فعالیتونو په پایله کې دنیغ په نیغه خدمتونو او محصولاتو ټولګه ده. |
| مسؤولیت | مسؤول یا مسؤول کسان د هغو مالوماتو د راټولولو او تصدیق پیژندنه کوي، چې د وګړو او بنسټونو څخه تر لاسه شویدي. |
| پایله | د علت او معلول له اړیکې څخه په یوه تر لاسه شوي وضعیت کې د بدلون د کچې د مالومولو ستاینه ده. |
| د پایلو پر بنسټ مدیریت | یو مدیریتي چلند چې ستراتیژۍ، وګړي، سرچېنې، بهیرونه او اندازې د پریکړو د ښه والي، روڼوالي او ځواب ورکولوپه موخه سره رانغاړي. |
| غوره وضعیت | اشاره هغه وضعیت ته ده چې په راتلونکې یوه ځانګړي وخت کې ورته لاسرسي وشي، په یوه ځانګړي زماني مهال کې زموږ د بریاوو څرګندوي وي. غوره وضعیت د ګټه اخیستونکو، کارکوونکو او ګډونوالو سره د بحث یو روښانه او مانا لرونکې ټکې شمیرل کیږي. |

# د ډاکټرې سیما سمر پیغام



د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیونپه استازیتوب، خوشاله یم چې خپل استراتېژیک پلان د څلورو راتلونکو کلنولپاره (1392- 1389) تاسو ته وړاندې کوم. دا ستراتېژیک پلان د کمېسیون دغړو او کارکوونکو، د ملي او نړیوالو همکارانو د هڅو او نظرونو پایله ده دا پلان د کمېسیون د کار تګ لوري د څلورو راتلونکو کلنوپه بهیر کې ځانګړې کوي، په دې پلان کې مو د کمېسیون لپاره پنځه استراتېژیکې موخې ټاکلې دي. (۱) رهبري (۲) زده کړه (۳) څواکمنتیا (۴) ملاتړ (۵) څارنه او ارزونه. کمېسیون غواړي چې د ځانګړولومړیتوبونوپه ټاکني سره د خپل کار اغیزمنتیا پیاوړې کړي او له خپلو سرچېنو ګټه واخلي.

په افغانستان کې دبشري حقونو وضعیت پیچلي دي، امنیتي وضعیت کړکیچن دي او دا د دې لامل شوي چې خللک په تیره بیا زیان منونکې کسان لکه ښځې، ماشومان، معلولیت لرونکې کسان، کورني بې ځایه شوي په ټول افغانستان کې د خپلو بشري حقونو څخه برخمن نه شي. سره د دې چې ژمني، استراتیژګاني، او سیاستونه د بشري حقونو د ښه والي په موخه رامنځ ته شوي دي، خو ګڼ شمېر نارینه، ښځینه او ماشومان د شدیدي بیوزلۍ، بې روزګارۍ، تبعیض، او روغتیایي خدمتونو، ښوونځي او استوګنځي نشتوالي، له امله په بشپړه توګه ځوریږي. د بشري حقونود قانونونو اجرا هم د عدلي او قضایي اورګانو د کمزورۍ په دلیل محدود پاتي دي. د بشري حقونوپه اړه نا پوهاوي هم د دې لامل شویدي تر څو وګړي خپل حقونه تر لاسه نه کړي او د بشري حقونو څخه د ناسمو انګیرنو د سرغړونو د سپیناوي په موخه لکه اجباري ودونه، د ماشومانو ودونه، د روزني د حق نقض د ښځو د سیاسي کار او ګډون څخه ګټه اخیستل شویده.

د دې ستراتېژیک پلان په تر سره کولو کې کمېسیون د سترو ننګونو سره مخ دي، ځکه د دولت له خوا بودجه نه تامینیږي د تلپاتې تمویل نشوالې او د مرسته کوونکو سره د کمېسیون پرله پسې تړاو د کمسیسیون راتلونکې ثبات ګډوډوي.

ډېر کارونه پاتي دي او د کمېسیون بري د دولت، مدني ټولني او نړیوالي ټولني له همکارۍ سره تړاو لري چې د ټولو خلکو بشري حقونه په ټول هیواد کې د ود او د ملاتړ وړ وګرځي.

د تیرو کلونوپه بهیر کې د کمېسیون کارکوونکې په نه ستړې کېدونکو هڅوپه هیواد کې د بشري حقونو د دود او څارنې د ملاتړپه لار کې ثابت قدمه وو. زه ډاډمنه یم چې د ملي او نړیوالو همکارانوپه ملاتړ موږ کولای شو خپلو ګډو موخو ته ورسیږو او د ټولو نارینوو، ښځو او ماشومانو د بشري حقونوپه وضعیت کې د ټول افغانستانپه کچه ښه والې راولو.

ډاکټره سیما سمر

د افغانستان د بشري حقونو دخپلواک کمېسیون مشره

# د اجراییوي رییس پیغام



د ۱۳۸۸ کال په بهیر کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون خپلې هڅې د اغیزمن کارپه موخه ګړندي کړي او ۱۳۸۹-۱۳۹۲ کلونولپاره د یوه نوي ستراتیژیک پلان چمتو او رامنځ ته کول د دې هڅو یوه برخه ده. دا ستراتیژیک پلان په ټول هیواد کې د ۵۰۰ کسانو د مشورو محصول دي او موږ د هغو څخه چې خپل نظرونه وړاندیزونه او کتني یې موږ سره شریکې کړې مننه کوو او د هغوي ګډون او برخه اخیستنه د دې لامل کېږي چې دا پلان په ټول هیواد کې د لومړیتوبونو او اړتیاوو منعکس کوونکې اوسي.

کمیسیون د رامنځ ته کېدو له مهاله د ۱۳۸۱ کال راهیسي بریاوي لري اوپه دې لړکې د خپلومسؤلیتونو او واکونو د اجرا پر مهال د سترو ننګونو سره مخ شوي هم دي. دا استراتژیک پلان موږ پیاوړي کوي او د کمزوریو د منځه وړلو لارې چارې په ګوته کوي. ګوابنونه له منځه وړي او نوي فرصتونو ته زمینه جوړوي.

کمېسیون ویاړي چې یو د درناوي وړ اورګان دي اوپه دي ستراتیژیک پلان کې غوښتنه دا ده ترڅو د کمېسیون د رهبري نقش پراختیاومومي. موږ د مدني ټولني او ټولنیزو مشرانو سره په هیواد کې د بشري حقونو د پیاوړتیاپه موخه خپلې همکارۍ ته دوام ورکوو. کمېسیون به همدا راز خپل ملاتړ د همکارو سازمانونو د وړتیاوو د ودې لپاره د بشري حقونو د دود او ملاتړپه برخه کې زیات کړي.

موږ د بشري حقونوپه برخه کې د خلکو د روزني او ځواکمنتیاپه وړاندي ژمن یو او د ټولو وګړود درک ریښتیاینې او د هغوي د حقونو ملاتړ ته به دوام ورکړو. کمېسیون به خپلي هڅي په افغانستان کې دبشري حقونو پروضعیت د څارني په اړه د بشري حقونو د نړیوالو دندو پر وړاندې د دولت او وګړو د ځواب ورکوني د تامین بهیر ته دوام ورکړي. کمېسیون به خپل تمرکز پر عدالت وساتي، د دې سره موږ نه شو کولای په یوازیتوب عدالت غوښتنه وکړو او پر دې اساس به د دولت، مدني ټولني او ملي شورا سره همکاریو ته پراختیا ورکړو.

کمېسیون د روڼوالي، ژمنتیا، ځواب ورکونې، او ریښتینولي پربنسټ یو سازماني فرهنګې روزلي دي او موږ دا ارزښتونه د ستراتیژیک پلان په بهیر کې ساتو او زیات تر دي یې روزو. د ستراتیژیک پلان د اغیزمن تر سره کولوپه موخه به کمېسیون خپل مشارکتي چلند وساتي، کورني جوړښتونه او میکانیزم او د څارني او ارزوني یو تیم جوړ کړي چې د استراتیزیک پلان د پر مختګ د بهیر سر پرستي وکړي اوپه عام ډول به رپوټ ورکړي.

بشري حقونو ته د کمېسیون د کار کوونکو پرله پسي ژمني یوه ارزښتمنده پانګه ده او زه باور لرم چې د ملي او نړیوالو همکارانوپه ملاتړ به موږ وتوانیږو ننګونې لیري اویوي عادلانه، پر مختللي او وګړنیزي ټولني ته ورسیږو چې هلته د بشر ي حقونو رعایت ملاتړ، او درناوي وشي.

**محمد موسی محمودی**

د ا فغانستان د بشري حقونود خپلواک کمېسیون اجراییوي رییس

# ستراتیژیک پلان

# 1389 -92 هـ.ش

## سریزه

*بسم الله الرحمن الرحیم*
*و لقد کرمنا بني آدم*
*وشاورهم في الامر*

په ۱۳۸۲ کال کې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د یوه نوي رامنځ ته شوي اورګان به توګه د یو ستراتېژیکې پلان جوړوني بهیر یې د ستراتېژیک پلان د طرحې په موخه ۱۳۸۲ –۱۳۸۷ پر غاړه واخیست چې 1388 د عمل پلان د دې ستراتېژیک پلان دوام وو.

ستراتېژیک پلان ۱۳۹۲– ۱۳۸۹ د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون یو څو کلنه اډانه د کمېسیون د ماموریت د تر سره کولو لپاره جوړوي. د یوې عادلانه، وګړنیزاو پرمختللي ټولني لرلید ځانه سره لري چې هلته به بشري حقونه د رعایت او درناوي وړ ګرځي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون یو مشورتي، مشارکتي یا ګډ سلوک د دې پلان د طرحې په موخه رامنځ ته کړ د ۱۳۸۸ کال د لړم او لیندې د میاشتو په بهیر کې له ۵۰۰ تنو د دولتي چارواکو، مدني ټولنو، د رسنیو استازو، رهبرانو او دیني علماوو، د نړیوالو سازمانونو، مرستندویه ټولنو، او کمېسیون کارکوونکو سره ۱۵ مشورتي ناستي ترسره شوي.د دې لپاره چې دا پلان د مختلفو سیمو د غوښتنو او اړتیاوو سره سم او منعکس کوونکې وي مشوري په بامیان، هرات، جلال اباد، کابل، کندهار، او مزار شریف کې ترسره شوي او د ټول هیواد په کچه کارپوهانو په کې ګډون کړي وو.

مشورتي ناستي د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون د ټولو کارکوونکو د تجربي او پوهي لپاره ښه فرصت او وخت وو چې د کارونو د لومړیتوبونو د ټاکلو لپاره د فعالي برخې اخیستني زمینه برابره کړي. د بهرنیو کارکوونکو سره خبرې اترې او د کمېسیون د کار د پایلو اغیزمنتیا وه اوپه پاي کې یې ځانګړي وړاندیزونه د کمېسیون د راتلونکې کار د لومړیتوبونو په اړه د بشري حقونو د دودولو او ملاتړ په موخه وړاندې شول.

د کارکوونکو سره د بحثونو په ترڅ کې د بشر دحقونو اوسني حالت تحلیل شو چې لنډیز یې د دې پلان په ښنلونو راغلی دی. همداراز پیاوړتیاوي، کمزورۍ، فرصتونه، داخلي او بهرنۍ ستونزې د کمېسیون د لومړیتوبونو د ټاکلو په موخه وارزول شوي چې لنډیز یې په ښنلونو کې شته دی.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون، د بیا کتني او ستراتېژیک پلان جوړوني کمیټه (SPRC) یې د استراتیزیک پلان د اجرا او د طرحې د بهیر د بنسټي کېدني په موخه رامنځ ته کړه چې دا کمیټه د کمشنرانو او د پلان او اداري کارکوونکو څخه جوړه او د اجرایې رئیس تر نظرلاندي ده. د بیا کتني او ستراتېژیکې پلان جوړونې کمیټه د خپلو دندو د لایحي پر اساس خپل لومړني مسوولیتونه په دې برخو کې پر غاړه لري.

- د مشورتي بهیر اداره او سر پرستي د ستراتېژیک پلان د طرحې او د کلني عمل د پلان لپاره
- د تر لاسه شویو مشورو څخه پر نظرونو او وړاندیزونو تحلیل او کتنه
- د ستراتېژیک پلان او کلنې کړنلارو تسوید او وروستنې کتنه.
- په کمېسیون کې د بیا کتني او استراتیزیکې پلان جوړوني د بهیر بنسټي کولولپاره د زیاتو میکانیزمونو او تدبیرونو طرحه.
- د کلني عمل د پلان او ستراتېژیک پلان جوړوني د ترسره کولو او ارزوني په موخه د یوي کلنۍ ارزوني او بیا کتني دبهیر همغږي ،په ستراتېژیک پلان کې د اړینو اصلاحاتو پیژندنه او د وروستي کلني عمل د پلان جوړول.

دعمل پلان د استراتیژیک پلان بشپړونکې ده، چې په هغو کې به د ستراتیژیک پلان د کار او ځانګړو او اړینو سرچینو د بشپړو کارونو د ترسره کولو په موخه 1392-1389 تشریح شي.

کمېسیون به همدا راز خپل سازماني جوړښت د استراتیزیک پلان د مندرجو لومړیتوبونو سره د سمون په موخه له سره وګوري او بیا کتنه به وکړي. د څارني او ارزوني میکانیزمونه د کمېسیون د پرمختګ د ارزونې او اندازه ګیری‌په موخه به د استراتیزیکو هدفونو او موخو د ریښتیاینې لپاره رامنځ ته شي. همدا ډول کمېسیون به روڼوالي، شفافیت او بشپړځواب ورکول د عامه رپوټونو له لارې د ستراتیژیک پلان د تر سره کولو په اړه تامین کړي.

په دي استراتیزیک پلان کې ډیري منتظره پایلې درج شوي دي چې د افغانستان د ملي پراختیا د بلان د ANDS له لومړیتوبونوسره سمون لري. ددي ستراتیژي پراساس دکمېسیون د استراتیژیک پلان اغیزی او پای‌لی د افغانستان دملي پراختیا د معیارونو د ری‌ښتیاینی سره د **1392** سره مرسته وکړي.

## د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون واک او ونډه

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د بشر د حقونو د یوه ملي اورګان په توګه د افغانستان د اساسي قانون په اته پنځوسمه ماده کې ځاي پر ځاي شوي دي.

"دولت په افغانستان کې د بشري حقونو پررعایت د څارنې ښه والي او ملاترپه موخه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون جوړوي.

هرڅوک کولاي شي د خپلو بشري حقونو د سر غړونې په صورت کې دې کمېسیون ته شکایت وکړي.

کمېسیون کولاي شي د وګړو د بشري حقونو د سرغړونو موارد قانوني مراجعو ته وسپاري او د هغوي د حقونوپه ملاتړ کې ورسره مرسته وکړي.

ددې کمېسیون جوړښت او د کار ډول یې د قانون لپاره تنظیمیږي".

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د تشکېل قانون، دندي او واکونه د ۱۳۸۴ کال د غوایي په میاشت کې د وزیرانو شورا له خوا تصویب شو. د دې قانون پر اساس کمېسیون، د افغانستان په اساسي قانون، نړیوالو اعلامیو، د بشرد حقونو نړیوال تړونونو، د بشري حقونو پروتو کولونه او نور د بشري حقونو سندونو کې د درج شویو حقونو او ازادیو د دود او ملاتړ واک لري.

د یاد شوي قانون ۵ مه ماده پنځه موخې د کمېسیون لپاره ټاکي:

1. په هیواد کې د بشرد حقونو په پام کې نیولو باندې څارنه
2. د بشري حقونو تعمیمول او ور څخه ملاتړ
3. د بشري سمون حقونو او ازادیو ته د وګړو د لاسرسي له وضعیت او څرنګوالي څخه څارنه.
4. دبشر له حقوقو څخه د سرغړونو او نقص د مواردو څېړنه او تحقیق.
5. ۵ په هیواد کې د بشر دحقونو د وضعیت د ښه کولو او پرمختیا په منظور د تدبیرونو نیول. [1]

د افغانستان د بشري حقونو دخپلواک کمېسیون اصلي تمرکز د قانون د واکمنتیا ملاتړ او جزاګانو څخه معافیت ته د پاي ټکي ایښودل دي. همدا راز کمېسیون د قانونونو د بهبود او ښه والي لپاره د نړیوالو تړونونو سره د هغو دسمون ملاتړ کړي دي. د بشري حقونو دفرهنګ د ودولو لپاره هڅې په دولتي اورګانونو او د خلکو تر منځ تر سره شوي دي. کمېسیون همدا راز د قربانیانوله حقونو د هغوي د قضایاوو د ارزوني او د بشري حقونو له سر غړونې او د قربانیانو د بشري حقونو د نه نقض کېدوپه موخه ملاتړ کوي، د کمېسیون بل تمرکزپه ټول هیواد کې مناسبو امکاناتو ته برابر لاسرسي او دټولنیزو خدمتونو دمنصفانه ویش ملاتړ دي.

د کمېسیون ۹ غړي چې د کمشنرپه نامه یادېږي د پنځه کالولپاره د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي او هغوي د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون د رهبرۍ مسؤولیت لري. د کمېسیون د خپلواکۍ په موخه څنګه چې ولسمشر کمشنران ټاکې بیا ولسمشر د هغوي د ګوښه کولو واک نه لري، ولسمشر مسؤولیت لري چې کمشنران داسي وټاکې چې د هیوادد ژبني، قومي، مذهبي، همدارنګه علمي اورګانونو اومدني ټولنو د تنوع منعکس کوونکې وي. د کمشنرانو په ګډون چې د کمېسیون رییس په سر کې دي. د رهبرۍ پلاوي د سیاست د رامنځ ته کېدو مسؤول، د ستراټیژیک پلان او د کلني عمل د پلان د تر سره

[1] - دافغانستان دبشر حقوقو دخپلواک کمېسیون د تشکیل، دندو او واکونو قانون، پنځمه ماده http\\www.aihrc.org.aflaw afaihrcpdf.

کولو سرپرست دي. سر بيره پر دي د رهبري پلاوي کړنلاري اوميکانيزمونه منتظره پايلې د عمل د پلانونو د اغيزمنې زمينې برابرول وضع کوي. د کلني عمل پلان د کمېسيون د دارالانشا له خوا تر سره کېږي چې د اجرايي رييس يې په سر کې دي. د کمېسيون د خدمتونو د پوښښ د تامين په موخه په ټول افغانستان کې کمېسيون اته سيميز دفترونه او شپږ ولايتي دفترونه پرانيستي دي او د ملاتړيزو کارکوونکوپه ګډون د ۶۰۰ کارکوونکو لروونکې دي .

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسيون د کار او فعاليت څانګې د بشري حقونو د زده کړې، د ماشومانو د حقونو، د ښځو د حقونو، انتقالي عدالت، څارنه او ارزونه، د معلوليت لرونکو کسانو حقونه په کې شاملېږي. د څېړني او تګلارې جوړوني څانګه، د مرسته کوونکو او رپوټونو سره د اړيکو همغږي، رپوټ ورکول، د سر چېنو مرکز، درسنيو او خپرونوڅانګه، اداري، مالي او لوژستيک، د مالوماتوبانک، او د مالوماتي تکنالوژي اوپه دي برخو کې د اړيکو او کارونو ملاتړ کوي.

اداري اغيزمن سيستمونه رامنځ ته شوي چې د کمېسيون د کاري پلان د ترسره کولو اغيزمني زميني رامنځ ته کړي او مالي او اداري کړني رڼې او شفافې شي. زياتې هڅې د پايلو(RBM[2]) د مديريت پر بنسټ په سلوک او اصولو کې د شامليدو په موخه په ټوليزه توګه د کمېسيون په مديريت کې تر سره شوي دي د کمېسيون د مشرتابه پلاوي او دارالانشا زيار باسي چې د بشري حقونو ارزښتونه په ورځنيو چارو او په ټولو پروګرامونو کې شامل کړي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون له دولت، مدني ټولني، ديني علماوو، رسنيو، نړيوالو ګډونوالو سره د خپلو دندو او واکونو د تر سره کولوپه موخه نزدي همکاري لري. کمېسيون خپل ملاتړ، تجربه او تخنيکي مشوري په منظمه توګه د بشري حقونو پوري اړوند مسايلو کې د دولت مختلفو وزارتونو ته چمتو او برابروي. موسسو ته د بشري حقونو ورکشاپونه او غونډې د ملي اردو منسو بانو ته، پوليسو، دارالمعلمينونو، پوهنتونونو او نورو د لوړو زده کړو دولتي او نا دولتي موسسوته جوړي کړي دي. کمېسيون همداراز په منظمه توګه د بشري حقونو د ښه والي په موخه دولت ته سپارښتني کړي د ي .

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د رامنځ ته کېدو له مهاله د مدني ټولنو له سازمانونو سره د بشري حقونوپه اړه روزنيز ملاتړ ساتلي دي کمېسيون د مدني ټولني د يو شمېر سازمانونو، د ماشومانو د پوهاوي د لوړوالي پلان د ترسره کولو، د ښځو له حقونو او معلوليت لرونکو کسانو له حقونو ملاتړ کوي.

کمېسيون همدا ډول د يو شمېر نړيوالو ګډونوالو حکومتي او غير حکومتي نړيوالو او مرستندويو سازمانونو سره همکاري لري. کمېسيون په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستو له پلاوي سره (يوناما)، د کډوالوپه چاروکې د ملګرو ملتونو د سازمان اداره، (UNHCR) د ماشومانو صندوق (يونسف) اود ملګرو ملتونو د سازمان د ښځو د پراختيا صندوق (يونيفم) د همکاريو د پياوړتياپه موخه د ټولنيزو، سياسي او اقتصادي حقونو دماشومانو او ښځو د حقونوپه برخو کې تفاهم ليکونه لاسليک کړي دي.

---

[2] - د عمده اصطلاحاتو د تعريف په برخه کې د پايلو پربنسټ دمديريت پيژندنه وګورئ.

## په افغانستان کې د بشري حقونو وضع

د تیرو دیرشو کلونو په بهیر کې د افغانستان اوسیدونکو د دریو رژیمونو، د افغانستان دموکراتیک جمهوریت (۱۳۵۷-۱۳۷۱) د افغانستان اسلامي دولت (۱۳۷۱-۱۳۷۵) او د افغانستان اسلامي امارت (۱۳۷۵-۱۳۸۰) لخوا له بشري حقونو څخه سر غړوني زغملي دي، په دي کلونو کې دبشري حقونو څخه ټولې سرغړونې لکه اجباري ورکېدنه، خپل سرې نیونه، بې له محاکمې وژنه، خپل سرې اعدامول، ځورونه، ټول وژنه، په استوګنځیو د رنډو بمباریو، په زور زیاتي بې ځایه کېدنه، د شخصي پانګو لوټونه، د عامه اماکنو ویجاړول، رامنځ ته شول. روسانو، اردو، پولیسو، او د دولت استخباراتو، غیر مسؤوله قوماندانانو او جګړه مارو او طالبانو دا سرغړوني کړیدي.

نن نا امني د افغانستان ستره ستونزه ده، نا امنه اوضاع د ژوند پر هر اړخ منفي اغیزي لري او د بیا رغاونې دپلانونو ترسره کول، پراختیا اوپانګه اچونه یې له ستونزو سره مخ کړیده، د ملکې خلکو مړینه د دولت د مخالفانو دفعالیتونو لامله، ملي امنیتي او نړیوال ځواکونه، یوه بله ستونزه ده. که څه هم د بشري حقونو مدافع اورګانونه، د هغې جملې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په جګړه کې د ښکېلو خواو وغوښتنه کړي چې ملکې مړیني ته د پاي ټکې کېږدي خو د دي مړینوکچه په دي وروستیو کلونو کې ډیره شویده.

د قانون د واکمنۍ کمزوري چې د فساد اود جزاګانو معافیت ته زمینه جوړوي هم د افغانستان د خلکو د حقونو د سر غړوني لامل شوي دې، قانوني پړاوونو ته د رسیدوپه موخه قضیو ته د رسیده ګۍ اود خپل حق څخه دفاع په قضایي اورګانونو کې او اړینو اسنادو ته لاس رسي لکه تذکره، پاسپورت، او د سوداګرۍ جواز، د افغانستان عام خلک اړ دي چې خپل وخت او زیاتي پیسي ولګوي او دولتي چارواکو ته بډي ورکړي. هغه بیوزلي چې د بډو ورکولو وسه نه لري هغو ته عدالت او اساسي ټولنیز خدمتونه محدود دي.

د بشري حقونو نوري ننګونې. د بشري حقونو دملاتړو قانونونو په اجرا کولو کې د دولت پاتې لاتلل دي په افغانستان کې د بشري حقونو د ملاتړلپاره ټینګه حقوقي اډانه شتون لري. د افغانستان د اساسي قانون دویم څپرکې هغه حقونه دي چې د بشري حقونوپه اعلامیه کې یادشوي دي او د اساسي قانون ۷ ماده د دهغه معیارونو او نړیوالو تړونونو د تحقق تضمینونکې ده چې افغانستان هغې سره تړاو لري. د دي سره د افغانستان نور عادي قانونونه په ځینو برخو کې د نړیوالو بشري حقونو له معیارونو سره سمون نه لري. سربیره پر دي د بشري حقونو څخه د ملاتړ اډانه د کاغذ پر مخ پاتي ده او پر قربانیانو یې زیانونه نه جبرانیدونکې دي. د دولت کمزوري د وګړو د بشري حقونوپه ملاتړ کې د فساد، د وړتیا ټیټه کچه، د قضایي اورګانونو بې کفایتي، د خلکو د بې باوري د قانون بر واکمنۍ ددې لامل شوي دي اوپه پایله کې ډیرو کسانو خپل باور پر عدلي او قضایي اورګانونو له لاسه ورکړې او د خپلو شخړو د سیيناوي لپاره عدلي او قضایي اورګانونو ته مراجعه نه کوي.

تیر او اوسني دولتونه خلکو ته د اساسي ټولنیزو خدمتونوپه وړاندي کولو کې پاتي راغلي دي. ښووني، روزني او روغتیایي اسانتیاو ته لاسرسي په لیرو پرتو سیمو کې په ډیره ټیټه کچه دي. زیات شمېر زده کوونکې نجونې نشي کولاي له دیارلس کلنۍ وروسته خپل سبقونه ووایي، له دي امله چې نږدي ښوونځي نشته دي.دا ستونزه د ښځینه ښوونکو د لږوالي او د اوسیدو داسانتیاوو دنه شتون، په دارالمعلمینونو او د ولایتونوپه مرکزونو کې ستونزمن شوي دي. په پایله کې ښځي نه شي کولاي د ښوونکۍپه توګه وروزل شي او لیري پرتو سیمو کې د نجونو په ښوونځیو کې په کار وګومارل شي.

که څه هم چې بیوزلي د افغانستان په تاریخ کې پخواني ریښې لري، کورنیو جګړو او ویجاړونکو عواقبو یې بیوزلي ته لمن وهلي ده. افغانستان د نړۍ د بیوزلو هیوادونوپه کتار کې دي چې د وګړو ګڼ شمېر یې د بیوزلي سره ژوند کوي. بیوزلي

زيات شمېر ماشومان له خپلو اساسي حقونو لکه د ليک لوست حق څخه بي برخي کړيدي، ځکه د لږي ګټي ګټونکي کورنۍ اړي دي چې خپل ماشومان په کار وګوماري، بيوزلي همدا راز د خلکو پر روغتيا ،خواړو ، او د ژوند پر سطحي اغيزي لري.

په افغانستان کې هغه سيمي چې ستونزمن جغرافيايي اقليم لري، له پراختيا شاته پاتي دي او کمزوري بيخ بنا لري اود عامه خدمتونو څرنګوالې هم هلته ټيټه کچه لري. په غرنيو سيمو کې پرله پسي ستونزي شتون لري ځکه چې د ولايت مرکز ته سړک نشته او يوازي د خلکو د لاسرسي لار عامه خدمتونولپاره نږدي مرکزونو ته د خرو په وسيله ستومانه کوونکې سفر دي. چې د ژمي په مهال دا حرکت هم لږ وي او د اقليمي شرايطوپه دليل د واورو اوريدل د خلکو يروړاندې خنډ جوړوي. دا شرايط د ليري پرتو سيمو د خلکو دټوليزو ، اقتصادي، سياسي، او مدني حقونو د ريښتيايني او پليتوب پر وړاندې خنډ ګرځي.

وروستنۍ ننګونه، له بشري حقونو څخه نه پوهاوي دي چې د خلکو دحقونو د ريښتيايني او هغو حقونو ته د لاسرسي مخنيوي کوي.د نا پوهاوي سطح هم د دولتي چارواکو او هم د خلکو ترمنځ په تيره د زيانمنونکو کسانو ترمنځ څرګنده ده. سره له دي چې د اسلام سبيڅلې دين د بشري ازاديو اوحقونود ملاتړله اساسي سر چېنوګڼل کېږي. ځيني مهال هڅي شوي چې د بشري حقونو ارزښتونه واړوي او دبشر حقونه له اسلام سره په ټکر کې وښيي د افغانستان د تاريخ به بهير کې زيان اړوونکې دودونه، ځان ساتې فکر،په ځينو برخو کې د اسلامي فقهې څخه ناسمه ګټه اخيستنه د وګړو د بشري حقونو د ترلاسه کولو پروړاندې خنډ شوي دي، د دي ناسمي ګټي اخيستني په پلمه له ځا نګړو بشري حقونو سرغړوني لکه د بيان ازادي، د واده حقونه، روزنه، د ښځو کار او سياسي مشارکت څخه سرغړونه شوې، او د بشري حقونود سرغړونو دسپيناوي لپاره لکه جبري ودونه، به بد وکې د نجونو ورکول، د ماشومانو ودونه، د جنسيت، قوم، مذهب، ژبې، او سيمې پر بنسټ له توپيرونو څخه ګټه اخيستل شوي ده.

## غښتلتیا ، کمزوری، فرصتونه او ګواښونه

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د رامنځ کېدو له مهاله د پام وړ ځواکمني تر لاسه کړي ده. د کمېسیون واکونو ته د اساسي قانون او د افغانستان د بشري حقونو دخپلواک کمېسیون د تشکېل، دندو او واکونو د قانون پر بنسټ اشاره کوو ، چې د کمېسیون د خپلواکی ژمنتیا لري. کمېسیون پراخ سیمیز شتون په ټول هیواد کې لري. چې هغه توانیږي په اغیزمنه توګه د بشري حقونو په ټولیزه وضعه څارنه وکړي او هغه وارزوي. د وخت په تیریدو کمېسیون روڼ مالي او اداري سیستم ته پراختیا ورکړیده چې د سرچېنو څخه د ګټې اخیستني زمینه جوړوي کمېسیون همدا راز د خپلو مالي چارو او تګلارې لپاره د پلټنې یوه بهرنې برخه پرانیستي ده.

او د دي پلټونکو د وړاندیزونو څخه یي د خپلو کارونو د پیاوړتیا او اغیزمنتیاپه موخه کار اخیستي دي. کمېسیون د رامنځ ته کېدو له مهاله د افغانستان په ټولنه کې د پام وړ اخلاقي اغیزي لاس ته راوړي دي او دولت، مدني ټولني، رسني او نړیواله ټولنه په منظم ډول په هیواد کې د بشري حقونو دمسایلوپه اړه د مشورو اخیستولپاره کمېسیون ته مراجعه کوي. د کمېسیون بله غښتلتیا د قانون جوړوني په بهیر کې د مشورو او نظرونو له لاري د بشري حقونو پوري داړوندو قانونونو په اړه کارنده ګډون دي. کمېسیون داسیا – اوقیانوسیه د ټولنې، د بشري حقونو دملي بنسټونو (APF) بشپړ غړیتوب لري او د بشري حقونو د ملاتړاو دودولو دملي او نړیوالې همغږۍ (ICC) د (8) کمیټو باور (ICC) یي لاس ته راوړي. د کمېسیون خبروني او رپوټونو د مالوماتو معتبره سرچینه ده او ملي او نړیوال سازمانونه او رسني تل پر هغو استناد کوي.

د افغانستان د بشري حقونو لومړي کمزوري د دولت لخوا ددوام لرونکې تمویل او مرستي نشتوالي او نړیوالو تمویل کوونکو پوري پرله پسي تړاو دې. کمېسیون همدارنګه اړتیا لري تر څو خپل میکانیزمونه د بشري حقونو د سر غړوني په قضیو کې د څارني په موخه په عدلي اوقضایي اورګانونو کې پیاوړي کړي او د خپلي همغږي سطح د دولت او مدني ټولنو سازمانونو سره پیاوړي کړي. همدا رنګه هڅه کیږي چې د کمېسیون د واکونو، کار او د فعالیتونو د پایلو په اړه د عامه پوهاوي د کچې د لوړتیا په موخه د رپوټ ورکولو په چارو کې د کمېسیون ځواکمني لا پیاوړې شي.

د افغانستان د بشري حقونو کمېسیون ته ډیر مهم فرصتونه په څلور راتلونکو کلنو کې شتون لري. مهمه فرصت د یوي پیاوړي قانوني اډاني د زمیني جوړونه ده چې یو کلک قانوني بنسټ د کمېسیون د ودي او پراختیا ستنه وي چې په هیواد کې د بشري حقونو یوه ملي مرجع وپیژندل شي. د ګڼ شمېر مدني سازمانونو د وړتیا ، ودې او د بشر د حقونو د ملاتړو زیاتیدنه او تنظیم یي هم مهم فرصت دي، د کمېسیون همکاري د دولتي چاروا کوسره، رسنیو، دیني علماوو، پوهنتونونو او نورو د لوړو زده کړو دولتي او غیر دولتي موسسو یو ټینګ اساس د ګډ کارپه موخه رامنځ ته کړ. د زیات شمېر لوستو ځوانانو د ښووني او روزني په شمېر او کمیت کې بهبود او ښه والي او لوړي زده کړي هم په وخت او موقع فرصتونه دي چې د بشري حقونو د پوهاوي د سطحي کچه د افغانستان په راتلونکې نسل تر منځ لوړوي.

د افغانستان دبشري حقونو خپلواک کمېسیون ته کلک ګواښونه، نا امني، فساد ، د قانون د واکمني کمزوري او د عدالت نه اجرا ده. چې په منفي توګه یي د کمېسیون کارونه تر اغیزي لاندي نیولي دي او د ټولیزي اغیزمنتیا خنډ یي شوي دي. کمېسیون او د بشري حقونو موازین او اصول په افغانستان کې دمحافظه کاره ځواکونو لخوا له ستونزو سره مخ دي او د بشري حقونو د ارزښتونو او اصولو څخه د نا سمي ګټې اخیستني، د تبلیغاتو د کچي زیاتوالي یوګواښ دي. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون تشکېل دندو او د واکونو دقانون په تعدیل کې د ملي شورا پیاوړتیا او د کمېسیون د مالي سرچېنو د تخصیص په اړه د دولت نه لیوالتیا د کمېسیون د فعالیتونو د پایښت لپاره بل ګواښ دي بل ګواښ د بشري حقونو د سر غړونکو شتون په دولت کې دي او زیات شمېریي لوړپوړي چارواکې دي او دا کار په افغانستان کې د جزاګانود معافیت فرهنګ اوږد مهاله کوي.

## د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون لرلید ، ماموریت او ارزښتونه

*لرلید*

یوه عادلانه، وګړنیزه او پرمختللي ټولنه چې په کې دبشري حقونو رعایت، درناوي او ملاتړ شي.

ماموریت

- د دولت، وګړو او مدني ټولنې هڅونه او ځواکمنتیا ، بشري حقونو ته درناوي اوور څخه ملاتړ لپاره.
- په ځایي، سیمه ییزه، ملي او نړیواله کچه د بشري حقونو څخه د ملاتړ او ښه والي په موخه، په افغانستان کې د بشري حقونو د بهیر لارښوونه او ملاتړ.
- د بشري حقونو دملي او نړیوالو ژمنو په اړه د دولت د کړنو د اجراتو څارنه، دملي قوانینو او سیاستونو د ارزونې په موخه او په دې هکله د وړاندیزونو وړاندي کول.
- د هغو قربانیانو له حقونو دفاع اوملاتړ چې بشري حقونه یې تر پښو لاندي شویدي
- د کمېسیون د کار او د پایلو اغیزمنتیا تامین

*ارزښتونه*

- انساني کرامت
- عدالت
- برابري او د تبعیض له منځه وړل
- خپلواکي
- ژمنه
- روڼتیا او ځواب ورکول
- مشوره او ګډون
- درناوي او متقابل تفاهم
- د نیوکې منل

برسیره پر دې کمیسیون دخپل ماموریت داجرا په بهیر کې دبشري حقونو دټولو ارزښتونو څخه دفاع کوي او هغه رعایتوي.

## د افغانستان د بشري حقونودخپلواک کمېسیون پنځه ستراتیژیکې موخې

**لومړی** : ستراتیژیکه موخه: مشرتوب

په افغانستان کې د بشري حقونوپه برخه کې د مشرتابه د رول اجرا کول.

بریاوې ( د **1392** کال تر پایه تمه کیدونکې پایلې):

1.1. په هیواد کې دبشري حقونو د پراختیا او ملاتړد بنسټي اډانې په توګه د کمېسیون د اعتماد پیاوړتیا .

۱. ۲. دولت، مدني ټولنه او نور ټول ملي او نړیوال کارکوونکې د کمېسیون پر تخصص، مالوماتو او موندنو تکیه کوي.

۱. ۳. کمېسیون په افغانستان کې د لیدو وړ دي او په افغانستان کې د بشري حقونو د مسایلو په اړه د ملي او نړیوالو بنسټونو پاملرنه راجلبولای شي.

۱. ۴. د کمېسیون د رول او کار پایلو په اړه د عامه پوهاوي د کچې لوړتیا .

۵. ۱. د کمېسیون مشوره ورکول او ګډون، په افغانستان کې د بشري حقونو پورې اړوند د ملي او نړیوالو تګلارو د پراختیا لامل کیږي.

### د تګلارې شاخصونه:

- له دولت لخوا د بشري حقونو د مسایلو په اړه د کمېسیون د وړاندیزونو او نظرونو د غوښتنو درجه.
- له کمېسیون څخه د ملي او نړیوالو سازمانونو او رسنیو لخوا دویناوو او رپوټونو د ترلاسه کولو کچه.
- د کمېسیون د کار پایلو او ونډو د پوهاوي په سطح کې بدلون.
- د ناسمو انګیرنو شمېر، د کمېسیون پروړاندې منفي تبلیغات او تورونه.
- د کمېسیون او د هغه د کار په اړه د رسنیو د مرکو او رپوټونو سمه کچه.
- کمېسیون ته د بشري حقونو د ملي او نړیوالو اورګانونو د مراجعه کچه، د بشري حقونو د ملاتړ او ود (ICC) د ملي او نړیوالې همغږي کمیټې په ګډون.
- کمېسیون ته د ملي او نړیوالو اورګانونو د مراجعې درجه.

### موندنې (پایلو ته د لاس رسي لپاره تمه کیدونکې ګامونه):

۱. ۱. ۱. عامه ویناوي، مطبوعاتي اعلامیې خپرې، مطبوعاتي مرکې او کنفرانسونه تر سره کېږي

1. ۱. 2. کمېسیون د بشري حقونو په هکله د دولت د سیاستونو په اړه سلا مشوري او وړاندیزونه وړاندې کوي.

1. ۱. 3. د بشري حقونو مهمو مسایلو ته د دولت او خلکو د پام راګرځولو په موخه د کمېسیون لخوا څیړنې، استماعیه ناستې او غونډې جوړیږي.

1. ۱. 4. د کمېسیون د رول واکونو د ښه درک په منظور د خلکو د پوهاوي د ودې په موخه د مالوماتي او د اړیکو سر چېنې او وسیلې پراختیا مومي.

### د تګلارې شاخصونه:

- د مطبوعاتي اعلامیو، کنفرانسونو او عامه ویناوو شمېر
- دولت ته د وړاندې شویو وړاندیزونو، د هغې د کتنې او اجرا شمیره.
- د ویب پاڼې د کتونکو شمېر/ له سندونو ګټه اخیستنه
- د اوریدو د غونډو، څیړنو او مجلسونو چې د خلکو او دولت د پاملرنې په موخه د بشري حقونو د مسایلو په اړوند تر سره کیږي.
- د اړیکو د نویو سرچینو او وسیلو شمیره چې د کمیسیون د واکونو او کړووړو په اړه د خلکو د لاپیژندنې په موخه پراختیا مومي.

## دویمه ستراتیژیکه موخه: زده کړه

په هیواد کې بشري حقونو ته د درناوي عملي کولو او پوهولو په برخه کې له ټولو افغانانو څخه ملاتړ برياوې (د 1392 کال تر پایه د تمه کیدونکې پایلې):

201 د بشري حقونو د اصولو او موازینو په اړه د عامه پوهاوي لوړوالي

202 په ښوونځیو پوهنتونونو، دارالمعلمینو، د تقنیني، مذهبي او پوځي، امنیتي او پولیسو په ښوونیزو مرکزونو کې د بشري حقونو زده کړه، بستي کیږي.

302 د پولیسو، پوځي منسوبانو، قضایي چارواکو، د زندانونو دمامورانو، مدافع وکېلانو، دحقوقي مرستندویانو چار چلند د بشري حقونو او اصولو پر قانونونو او د بشر دوستانو قانونونو داصولو د رعایت منعکس کوونکې او ځرګندونکې دي.

402 پر بشري حقونو د متمرکزو څېړنیزو بنسټونو او رسنیو کمیت او کیفیت لوړتیا مومي.

502 په کور، کار ځایونو، او د اوسیدنو ځایونو کې تاوتریخوالې په تیره بیا د ښځو او ماشومانو په اړه کمښت مومي.

602 د خلکو زیات شمیر دبشري حقونو مدافع ټولنو ته مراجعه او پر دغو بنسټونو یې باور زیاتیږي.

### د تګلاري شاخصونه:

- د بشري حقونو له اصولو او موازینو څخه د عامه پوهاوي د کچې لوړوالي.
- د بشري حقونو پروړاندې د منفي تبلیغاتو سره د اغیزمني مخامختیا کچه
- دبشري حقونو په ملاتړ کې د دولتي چارواکو، دملي شورا د غړو، دیني علماوو، مدني ټولني او سازمانونه په وسیله د وړاندې شویو عامه ویناوو شمېر.
- د بشري حقونو او نړیوالو بشر یا له حقونو ددندو او پوهاوي د درک کچه، د پولیسو، پوځي منسوبانو، قضایي چارواکو، د زندان مامورانو، مدافع وکېلانو او حقوقي مرستندویانو په چار چلند کې.
- د بشري حقونو د مفهومونو اوجاجونو بستې کول په ښوونځیو، پوهنتونونو، د ښوونکو د روزنې په مرکزونو، پوځي مرکزونو/پولیسو / امنیتي مرکزونو کې.
- په کور، کار ځایونو او داوسیدنې سیمو کې د تاوتریخوالی په تیره بیا د ښځو او ماشومانو په وړاندې دکمښت درجه.
- دبشری حقونو مدافع سازمانونو ته دخلکو مراجعه او پرهغې د باور کچه.

### موندنې: (پایلوته دلاسرسي لپاره تمه کیدونکي ګامونه):

2. ۱. ۱. د ورکشاپونو، روزنیزوغونډو او علمي سیمینارونود پوهاوي پروګرامونو جوړول.

۲. ۱. ۲. سر چېنو ته عامه لاسرسي، د بشري حقونو پروګرامونه او مشوري له بیلا بیلو لارو د کمېسیون د سر چېنوپه ګډون پراختیا مومي.

۲. ۱. ۳. روزنه، تخصص، او سر چېنې د بشري حقونو د پروګرام د طرحي او ملاتړپه موخه، په ښوونځیو، پوهنتونونو، د ښوونکو د روزنیزو موسسو، دیني قضایي، تقنیني مرکزونو، پوځي روزنیزو/ امنیتي/ پولیسوښونیزو مرکزونو ته برابرېږي.

### د تګلاري شاخصونه:

- د ورکشاپونو، ښوونیزو غونډې، علمي سیمینارونو، او د پوهاوي پروګرامونو څرنګوالي او بایلې
- د هغو کسانو شمېره چې د بشري حقونوپه اړه مالومات مومي او روزل کېږي اوتعقیبي ښوونې او کړنې د خپل کار د پوهي او وړتیاپه موخه تر سره کوي
- د بشري حقونو به اړه رادیویي او تلویزیوني خبروني او د رسنیو د کمیت او کېفیت پوښښ او د کتونکو او اوریدونکو نظرونه.
- د بشري حقونو د پوهي پراختیا او دودلپاره د مدني ټولنو سره دهمکارو پروژو شمېر
- په ښوونځیو، پوهنتونونو، د ښوونکود روزني، دیني او پوځي روزنیز مرکزونو / پولیس / امنیتي او پولیسو ښوونیزو مرکزونو ته د وړاندې شویو زده کړو او سرچینو شمیره.
- د اسلام د مقدس دین او بشري حقونو تر منځ د ګډو اړیکو په اړه د عامه خبرواتروۀ مناظرو او بحثونو شمیره.
- د حج او اوقافو وزارت د دیني علماوو سره دهمکاري او برخه اخیستنې درجه.

## دریيمه ستراتيژیکه موخه: ځواکمنتیا

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د وړتیاوو د ټینګښت او بشري حقونو د دویدو او ملاتړ لپاره د دولت مدني ټولنو او ځواکمنۍ پیاوړتیا.

برياوي (د **1392** تر پايه تمه کېدونکې پايلې):

1.1.3 د خپلو پلانونو او سر چېنوپه تنظیم کې د کمېسیون د اغېزمنتیا زیاتوالي

2.1.3 د کمېسیون د کارکوونکو دکاري وړتیا اوتخصص لوړوالي د اړوندو ښوونیزو او پراختیایي پلانونو د زمینو له طریقه.

3.1.3 د کمېسیون د کارکوونکو جوړښت په زیاتونکې توګه د جنسیتي، قومي، مذهبي د ژبي او معلولیت له پلوه د افغانستان دنفوسو د تنوع ځرګندونه کوی.

4.1.3 د قضیو د حل او تعقیب لپاره د بشري حقونو د سر غړوني شکایتونه چې کمیسیون ته اطلاع ورکړل شوي وي د کمېسیون د وړتیاوو لوړوالي

5.1.3 د مدني ټولنو او دولتي اورګانونو د وړتیاوو زیاتوالي.

6.1.3 دبشري حقونود ملاتړ، دودیدو او څارنې په برخه کې د وړاندیزونو او سلامشورو په مټ پر دولت داغیزو د زیاتوالي لپاره دکمېسیون او مدني بنسټونو ځواکمني.

### *د تکلاري شاخصونه:*

- په کمېسیون کې دسیتسم، میکانیزمونو او مدیریتي کړنو د بنسټي کیدو درجه..
- د کمېسیون د کارکوونکو کاري وړتیا او د تخصص د لوړوالي درجه.
- دکمېسیون دکارکوونکو په جوړښت کې د نفوسو د تنوعو د منعکسولو کچه.
- د بشري حقونو د شکایتونو د راجع کولو د حل د سلنې شمېرنه.
- دبشري حقونو پر نړیوالو تړونونو څارونکو بنسټونو ته د دولت لخوا د ورکړشویو رپوټونو څومره والي او ځرنګوالي.
- د مدني ټولنو او د بشري حقونو د ملاتړو ګډو پرژو د کار او فعالیت شمېرنه
- د بشري حقونو د پروژو او پروګرامونو شمېرنه چې په خپلواکه توګه د مدني ټولنو له خوا طرح او پلې کېږي.
- د بشري حقونو د مسایلو او سیاستونو اړوند دولت ته د مشورو او وړاندیزونو شمېرنه

### *موندنې (پايلو ته د لاسرسي په موخه تمه کیدونکي ګامونه):*

۱. ۱. ۳ د کمیسیون د کارکوونکو ښوونیز فرصتونه او معلوماتي وسایل دهغوي د پوهي او تخصص په موخه زیاتوالي مومي.

۲. ۱. ۳ ډیر تدبیرونه تر لاس لاندي نیول شوي چې بي برخې ډلې له هغې جملې ښځې، قومي، دیني او ژبني او هغه کسان چې معلولیت لري په کمېسیون کې د کار غوښتلو لپاره پیاوړي شي

۳. ۱. ۳ دکمېسیون د کار د پایلو او رپوټونو د ارزونې او څارنې په موخه دمدیریتي کړنو سیستمونه او میکانیزمونه رامنځته کیږي.

۴. ۱. ۳ د مدني ټولنو، اورګانونو، سازمانونو او د دولت په وزارتونو کې د بشري حقونو څانګو ته تخنیکي او ښوونیز ملاتړ چمتو کیږي.

### د تګلارې شاخصونه:

- د وړتیا د ودې د پروګرام د طرحې کچه او د ښوونیزو او پراختیایي اړتیاوو کلنۍ ارزونه
- د کمېسیون هغه شمېر کارکوونکو چې د ښوونیزو او پراختیایي فرصتونو څخه ګټه اخیستې ده
- په کمېسیون کې د کارکولو لپاره د محرمو او بې برخو ډلو لپاره د هڅونې د تدبیرونو کچه.
- د پایلو پر بنسټ د تګلارې د مدیریت د جوړښتونو او سیستمونو د طرحې کچه.
- د کمېسیون د سازماني تګلارې او دکارکوونکو د کړنو ارزونه.
- د دولت، مدني ټولنو ، او په وزارتونو کې د بشري حقونو د څانګو په شمول د تخنیکي ملاتړ کچه.
- دبشري حقونو د ملاتړ په موخه دمدني ټولنو، سازمانونو، د رضاکارانو راټولو لپاره د اغیزمنو ډلو اومیکانیزمونو د د رامنځته کولو درجه.

## څلورمه ستراتیژیکه موخه: ملاتړ

د بشري حقونو د رېښتیایني په موخه په نړیواله ، سیمه ییزه، او ملي کچه ملاتړ.

### برياوې ( د 1392 کال تر پایه تمه کیدونکې پایلې):

۴. ۱. د بشري دحقونو ملاتړو قوانینو، مقررو او پالیسیو شمیر زیاتیږي.

۴. ۲. د بشري حقونو د معاهدو تصویب او موجوده قوانین د بشري حقونو د نړیوالومعاهدو سره همغږي کول.

۴. ۳. کمېسیون خپل ګډون په ټولنو او ملي ډلو، سېمه ییزواو نړیوالوډلو کې د بشري حقونود لومړیتوبونوپه موخه پیاوړي کوي او پراختیا ورکوي.

۴. ۴. د سولې، پخلاینې او عدالت په اړه د عمل تګلاره پلې کېږي

۴. ۵. د هغو تدبیرونواو سیاستونو پلي کولو څخه چې له بشري حقونو سرغړونه ګڼل کیږي په کلکه مخنیوي کېږي.

### د تګلارې شاخصونه:

- دهغه قوانینو شمیره چې د بشري حقونو د ښه والي په موخه جوړ / او یا تعدیلیږي.
- دبشري حقونو د نړیوالو تړونونو، پریکړه لیکونو او سپارښتو شمیره چې په ملي قوانینو، مقررو او طرز العملونو کې ځای پرځای کېږي.
- په ملاتړوډلواوشبکوکې د مدني ټولنو،د بشري حقونود ملاتړو، د ملي شورا د غړو، ملي ډلو، سېمه ییزواو نړیوالو سره دغړ او چتولو څرنګوالي.
- د عدالت، پخلاینې، سولې د عمل د تګلارې د پنځه بنسټي ګامونو د ترسره کولو کچه
- دهغه ډلو او کسانو د زیانونو جبران چې د بشري حقونو څخه د سرغړونو قربانیان دي.
- دهغه خنډ اچوونکو دهڅو شمیره چې د بشري حقونو د سرغړوني لامل کېږي.

### موندنې (پایلو ته د لاسرسي په موخه تمه کیدونکې ګامونه):

4. ۱. 2. د ملاتړو ډلو او شبکو رامنځ ته کول او پیاوړتیا او د ملي شورا او مدني ټولنو سره ګډ فعالیتونه.

4. ۱. 3. د تقنیني نظرونو او بیا کتنو له لارې د قانون جوړوني په بهیر کې برخه اخیستنه یا ګډون.

4. ۱. 4. پر دولت فشار راوړل کیږي، وړاندیزونه ورته سپارل کیږي او له هغې څخه د پخلاینې او عدالت او د عمل تګلارې د پلیتوب په اړه ملاتړ کیږي.

4. ۱. 6 د ورکړشویو رپوټونو په اړه د ملګرو ملتونو ټولنې، دبشري حقونو شورا او ورسره نورو تړلو موسسو، نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو ته نظریې او ویناوې وړاندې کېږي.

*د ټکلارې شاخصونه:*

- د دولت او قانون جوړونکو اورګانونو لخوا کمېسیون ته دقوانینو د تصویب او تعدیل پرمهال د مراجعي شمیره.
- دولت ته دوراندې شویو تقنیني نظرونو او بیا کتنو شمېرنه او د مقررو او قوانینو د بدلون کچه.
- د بشري حقونو د ملاتړو سره د اغیزمني پلوۍ ډلو، د مدني ټولنو او رضاکارانو د فعالیتونو کچه.
- د ملي شورا د غړو او مدني ټولنو د سازمانونو سره د همغږۍ د هڅو او ناستو شمېرنه.
- د کمېسیون د رپوټونو او وړاندیزونو په اړه د ملي شورا د بحثونو او مناظرو شمېرنه.
- د بشري حقونو شورا او ملګرو ملتونو سره ټرلو نور جوړښتونه، نړیوال او سیمیز سازمانونو ته دوړاندې شویو نظرونو او ویناوو شمیره.

## پنځمه ستراتیژیکه موخه: څارنه او ارزونه

دبشري حقونو د رعایت، ملاتړ او دبشري حقونود دندو د اجرا په وړاندې د دولت، په هیواد کې د میشتو ملي او نړیوالو بنسټونو او وګړو د ځواب ورکونې تیاري.

بریاوې: (د 1392 کال تر پایه تمه کیدوونکې پایلې)

5. 1. د افغانستان خلک له بشري حقونوڅخه، د مدني، سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګې حقونو په ګډون په پراخه کچه برخمن شویدي.

5. 2. د دولت د ملي او نړیوالو بشري حقونو د دندو د رعایت په اړه عامه پوهاوي او معلومات زیاتیږي.

5. 3. په زندانونو، توقیف ځایونو، څارځایونو، د ماشومانو د اصلاح او روزنې په مرکزونو او دنړیوالو امنیتي ځواکونو تر اداري لاندې سیمو کې له زندانیانو، توقیف شویو، شکمنو او محبوسینو سره چلند ښه والي مومي او په دغو سیمو کې شرایط سمیږي.

5. 4. دفساد د کچې او د بشري حقونو په تحقق کې دهغه د ناوړه اغیزو په اړه دعامه پوهاوي او حساسیتونه کچه لوړیږي.

5. ۵. عدالت ته د خلکو په تیر دزیانمنونکو کسانو، ښځو، ماشومانو، او معلولیت لرونکو وګړو په ګډون لاسرسي زیاتیږي.

5. 6. د وسله والو شخړوپه بهیر کې دملکي وګړو مرګ ژوبله تر ممکنه بریده راټیټیږي.

*د ټکلارې شاخصونه:*

- د دولت لخوا دملي او نړیوالو بشري حقونو د رعایت په اړه د رپوټونو شمیره او دعامه پوهاوي کچه.
- په زندانونو، توقیف ځایونو، څارځایونو، دماشومانو د روزنې او اصلاح او دښځو او ماشومانو دامن په مرکزونو کې د شرایطو دښه والي په موخه د کمیسیون دوړاندیزونو د اجرا کچه.
- په زندانونو او نوروازادۍ سلبوونکو ځایونو کې د ځورونې د قضیو د شمېرپه سلنه کې بدلون.
- د هغو خلاصوشویو وګړو شمېر چې په غیر قانوني توګه نیول شوي، بندیان، او حبس شویدي دي.
- روغتیا، ښوونې او روزنې، ټولنیزو تامیناتو، او نورو اساسي خدمتونوته د خلکو په تیره بیا د زیانمنونکو وګړو او ډلو د لاسرسي کچه.
- د هغو تدبیرونو کچه، چې ټولنیزو اساسي خدمتونو ته د خلکو په تیره د زیان منونکو وګړو او هغو وګړو چې لږ عاید لرونکي وي دعادلانه لاسرسي لپاره رامنځ ته کېږي.
- د فرهنګې، ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او مدني حقونو څخه د سر غړونې دقضیو شمېره او سطحه.
- د فساد څخه د پوهاوي کچه او دبشري حقونوپه ریښتیاینې کې یې مخامخ ناوړه اغیزې.

- دهغو زيان منونکو وګړو شمېرنه چې محکمو ته مراجعه کوي او خپلې قضيې حلوي.
- په عدلي او قضايي اورګانونو کې دخلکو په تيره زيانمنونکو ته د عدالت لپاره لاسرسي ته داسانتياوو او تدبيرونو دچمتو والي کچه.
- د ملکې مرګ ژوبلې د کمښت کچه

## موندنې (پايلې ته د لاسرسي په موخه تمه کېدونکې ګامونه):

5. ۱. 1. موضوعي،وضعيتي،څېړنيز، څارنيز، او پرتليز، رپوټونو په ملي او نړيواله کچه وړاندې او خپرېږي

5. ۱. 2. په ازادۍ سلبوونکې ځايونو، نظارتځايونو، د ماشومانو د روزنې او اصلاح د مرکزونو د ښځو د او ماشومانو د امن د مرکزونو، عدلي او قضايي اورګانونو کې د بشري حقونو د رعايت د ملاتړ د ارزونې او پرتلې لپاره په منظمه توګه څارنه تر سره کېږي.

5. ۱. 3. د عامه رپوټونو د ارزونې او د سياسي او مدني حقونو د رېښتيايني په موخه، د ټاکنوپه بهير کې سيمه ييزه څارنه تر سره کېږي.

5. ۱. 4. پر اقتصادي، ټولنيز او فرهنګي حقونو سيمه ييزه څارنه، د اساسي حقونوپه شمول د روزنې حق، د روغتيا حق، د خواړو حق او د افغانستان د زريزې د پراختيا د موخو ترسره کولو (MDGs) لپاره د دولت لخوا د ملي او نړيوالو بشري حقونو د دندو ترسره کولو په هکله د رپوټونو ارزونه په منظمه توګه ترسره کېږي.

۵. ۱. ۵. د خلکو د عادلانه محکمې د نقض کولو پيښې په تيره د زيامنونکو کسانو په اړه په منظمه توګه څارل کېږي.

6.1.5. دفساد دقضيو او دبشري حقونو په تحقق کې دهغو د ناوړه اغيزه په اړه د رپوټ ورکولو د څارنې او ارزونې لپاره نوي ميکانيزمونه رامنځته کېږي.

## د تګلارو شاخصونه:

- د پرتليزو، څارنيزو، څېړنيزو، وضعيتي او موضوعي رپوټونو د څرنګوالي شميره چې خپاره شويدي.
- په زندانونو، توقيف ځايونو، څار ځايونو، د ماشومانو د روزنې او اصلاح او دښځو او ماشومانو د امن په مرکزونو کې د څارنې دماموريتونو څومره والې.
- د ټاکنوپه بهير کې پر رپوټونو او دسياسي او مدني حقونو د څارنې د ماموريتونو شمېرنه.
- پر اقتصادي، ټولنيزاو فرهنګي حقونو د سېمه ييزوڅارنو د ماموريت شمېره.
- د هغو قضيو شمېرنه چې په محکمو کې څارل او تعقيب شويدي.
- د دولت له پلوه د کمېسيون د وړانديزونو دکتنو او اجراکولو کچه.
- د فساد د هغه پيښو او قضيو شمير چې څآرنه او ارزونه يې شوې او په اړه يې رپوټ ورکړ شويدي.

## د تګلارې څارنه او ارزونه

د 92-1389د ستراتېژيک پلان د اغيزمنې اجرا په موخه، يوه څلور کلنه د عمل تګلاره طرح کيږي. چې په هغه کې به د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسيون د کارکوونکو ځانګړې فعاليتونه د پنځه ستراتېژيکو موخو د رېښتيايني لپاره تشريح شي. کړنې به په مستقيمه توګه د ستراتېژيک پلان د پايلو سره سمون ولري او بودجه او زماني جدول به د عمل په تګلاره کې داخل شي چې د پيژندنې اړينې سرچينې او ضرب الاجلونه به دکړنو د بشبړتيا لپاره رېښتينې وټاکل شي. د کمېسيون کارکوونکې به د عمل د تګلارې په جوړولوکې برخه ولري، ترڅو د عمل تګلارې د جغرافيايي لومړيتوبونو او اړتياوو منعکس کوونکې او پروګرامي وي. د ولايتي او سيمه ييزو دفترونوکلني پروګرامونه به د عمل د تګلارې بشپړونکې وي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون دا راز خپل سازماني جوړښت په ستراتېژيک پلان کې دراغلو لومړيتوبونو سره د سمون په موخه بيا وګوري او بيا کتنه به يې وکړي. د پرله پسې څارنې او ارزونې لپاره د څارنې او ارزونې کارکړنې به په ستراتېژيک پلان او د عمل په تګلاره کې رامنځ ته شي چې لاندنې برخې به لري:

1. دستراتيژيک پلان او دعمل د تګلارې جوړونکې کميته به په پرله پسې توکه د ستراتېژيک او عمل د تګلارې د اړينو اصلاحاتو د پيژندنې او د عمل او ستراتېژيکو پلانونو د ارزونې او کچې اخيستنې په موخه د بيا کتنې د همغږۍ لپاره خپل کارته دوام ورکوي.
2. د څارنې او ارزونې يوه ځانګه جوړيږي چې د عمل او ستراتيژيک پلانونو د پرمختګ د بهير د څارنې او سرپرستۍ مسؤوليت به ولري. د اوسنې وضعيت څخه د مالوماتو او د تګلارې د کچې اخيستنې په اړانه کې راغلو شاخصونو او د کمېسيون د پايلو د اغيزمنتيا په موخه به تري ګټه واخيستل شي. د مالوماتو يو نوې بانک به د منظم رپوټ ورکولو، تعقيب، د څارنې او ارزونې د ځانګې د ملاتړ او د عمل او ستراتېژيکو پلانونو د پرمختګ په موخو رامنځ ته شي.
3. کمېسيون به همدا راز دستراتيژيک پلان د اجرا د رونوالي او بشپړې ځواب ورکونې لپاره عامه رپوټونو خپاره کړي، دا رپوټونه به دري مياشتنې او کلنې وي. وروستۍ رپوټ به د ۱۳۹۲کال په پاي کې د ستراتېژيک پلان د اجرا د ارزونې لپاره چمتو شي، ټول رپوټونه به د کمېسيون په ويبپاڼه کې خپاره شي.
4. د دولت په ګډون د بهرنيو همکارانو او کار کوونکو، مدني ټولنې، ديني عالمان، رسنيو او نړيوالو ګډونوالو سره سلا مشوري به په کال کې دوه ځلې ترسره کيږي چې د هغوي نظرونه، د ستراتېژيک پلان د اجرا او پرمختګ او د کمېسيون دکار د پايلو د اغيزمنتيا په اړه ترلاسه شي.
5. په ۱۳۸۹-۹۲کال کې کمېسيون د يوه ارزونکي يا بهرني تفتيش څخه غواړي چې د کمېسيون د کار کړنو پايلې دي په ستراتېژيک پلان کې د راغلو موخو پر اساس وارزوي او سنجش دي وکړي.

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسيون د اغيزمنتيا لپاره به، د کمېسيون دکار د پايلو پر بنسټ د مديريت د بنسټي کولو په لار کې کار او فعاليت وکړي چې رونوالې او بشپړه ځواب ورکونه د کمېسيون د سرچينو د همغږۍ له لارې د ستراتېژيکو لومړيتوبونو سره تامين شي. ګډونيز يا مشارکتي کارونه به د کمېسيون د کارونو لاربنود شي او دا کار به د خود اراديت او پايښت پر بنسټ ولاړ وي.

# د منطقي تحليل اړانه

## د افغانستان د بشري حقونو دخپلواک کمېسيون څلورکلن ستراتېژيک پلان (1392-1389)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ستراتېژيکې موخې | په افغانستان کې د بشري حقونو په برخه کې د لارښود رول لوبول. | په هيواد کې دبشري حقونو ددرک، رعايت او درناوي لپاره د ټولو افغانانو څخه ملاتړ | د افغانستان دبشري حقونو دخپلواک کمېسيون، حکومت،مدني ټولني،او د بشري حقونو څخه د ملاتړو وګړو ځواکمنتيا | د بشري حقونو د رېښتيايني لپاره په نړيواله، سيمه ييزه او ملي کچه ملاتړ . | دبشري حقونو د دندو د اجرا، رعايت او ملاتړ لپاره د دولت او په هيوادکې د وګړو، ملي او نړيوالو بنسټونو چمتو کول د ځواب ورکوني لپاره. |
| برياوي | په هيواد کې د بشري حقونو دپراختيا او ملاتړ د محوري مرجع په توګه د کمېسيون اعتبار پياوړې کيږي<br><br>دولت، مدني ټولني او نور ملي او نړيوال همکاران په ښه توګه د کمېسيون پر تخصص، مالوماتو او موندنو اتکا کوي<br><br>کمېسيون د ليد وړ دي اوپه افغانستان کې د بشري حقونود مسايلو به برخه کې د ملي او نړيوالو ټولنو د پاملرنې په راجلبولو کې فعاله دي.<br><br>د کمېسيون د کار د پايلو، ونډې او ارزښت څخه د عامه پوهاوي لوړتيا .<br><br>په افغانستان کې د بشري حقونولپاره د کمېسيون ګډون او مشوره ورکول د ملي او نړيوالو پروګرامونو د بډايني لامل کېږي | د بشري حقونو څخه عامه پوهاوي لوړتيا مومي.<br><br>د بشري حقونو زده کړه په ښوونځيو، پوهنتونونو، د ښووونکو د روزني، عدلي، قضايي، تقنيني، مذهبي، نظامي، امنيتي د پوليسو، روزنيزو مرکزونوکي بنسټي کېږي.<br><br>د پوليسو، د پوځي منصوبانو، قضايي چارواکو، د زندان ماموراّنو، مدافع وکېلانو، حقوقي مرستندويانوچارچلند، د بشري حقونو د اصولو او بشردوستانه او د هغه قوانينودرک رعايت او اصولو درک منعکس کوونکې دي<br><br>پر بشري حقونو متمرکز څيړنيز اورګانونه او د رسنيو کمي او کېفي اړخونه پياوړتيا مومي.<br><br>تاوتريخوالي په کور، کارځايونو او داوسيدني سيمو کې په تيره بيا دښځو او ماشومانو په وړاندې کمښت مومي.<br>زيات شمير خلک د بشري حقونو د دفاع اورګانونو او بنسټونو ته مراجعه کوي او باوريې پرې زياتيږي | د کمېسيون د اغيزمنتيا زياتوالي د خپلوسرچېنو او پروګرامونو په تنظيم کې.<br>د اړوندو روزنيزو پراختيايي پروګرامونو له لارې د کمېسيون د کار کوونکو د وړتيا او تخصص لوړوالي.<br><br>د کمېسيون د کارکوونکو جوړښت په زياته کچه د نفوسو د تنوع چې، د جنسيت،قوم، دين، ژبې، او د معلوليت په ګډون دي منعکسوي<br><br>د کمېسيون ظرفيت، د هغه قضيو او شکايتونو به تعقيب او حل کې چې د بشري حقونو څخه د سر غړونو له امله ورته رسيږي وده کوي.<br><br>د بشري حقونو په دود څارنه او ملاتړ کې د دولت او مدني ټولني د وړتيا وده.<br><br>د بشري حقونو په چارو کې د کمېسيون ځواکمنتيا او د مدني ټولني د بنسټونو اغيز د سلا مشورو او وړانديزونو له لارې پر دولت باندې ټينګښت مومي | د بشري حقونو د ملاتړو مقررو، قانونونو او پاليسيو د شمېر زياتوالي.<br><br>د بشري حقونو پر معاهداتو هوکړه او موجوده قانونونه د نړيوالو معاهدو سره همغږې کيږي.<br><br>کمېسيون دبشري حقونو د لوميتوبونو په موخه خپل ګډون ته په ملي شبکو، سېمه ييزواو نړيوالو ټولنو کې پراخ او پياوړتيا ورکوي.<br><br>د عمل پروګرام د سولې، پخلاينې، او عدالت په اړه تطبيق کېږي.<br><br>د هغو سياستونو او تدابيرو تطبيق چې د بشري حقونو څخه سر غړونه کنټرول کېږي په فعالانه توګه يې مخنيوي کېږي. | عامه پوهاوي، د دولت لخوا دبشري حقونو د ملي او نړيوالو دندو درعايت به اړه زياتيږي<br><br>د دولت په وسيله د ملي او نړيوالو بشري حقونو دندو، رعايت، د عامه مالوماتو او پوهاوي زياتوالي.<br><br>په زندانونو، توقيف ځايونو نظارتخانو، د ماشومانو د اصلاح او روزني په مرکزونو او د نړيوالو ځواکونو تر اداري لاندې زندانونوکي د بنديانو، توقيفشويو، شکمنواو محجوزانو سره چار چلندښه والي مومي اوپه دغه د ازادۍ څخه د سلب په ځايونو کې شرايط ښه شويدي.<br><br>د بشري حقونو په تحقق کې د فساد د کچې او نيغ به نيغه اغيز به اړه عامه خبرتيا او حساسيتونه زياتيږي.<br><br>عدالت ته د خلکو لاس رسي په تيره بيا د زيامنونکو کسانو چې د ښځو ماشومانو او معلوليت لروونکوکسانو په ګډون دي زياتوالي مومي<br><br>د وسله والو شخړو په بهير کې د ملکي مړينو کچه لږ تر لږه تر ممکنه بريده ټيټيږي. |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| موندنې | عامه ویناوي او مطبوعاتي اعلامیي خپرېږي کنفرانسونه / اومطبو عاتي مرکې تر سره کېږي.<br><br>دولت ته د بشري مسایلو او سیاستونوپه اړه سلا مشوري او وړاندیزونه ورکول کیږي<br><br>د بشري حقونو مهمومسایلوپه اړه د دولت او خلکو د پاملرنې را اړولو لپاره د ښېړنو اوخبرو اترو غونډې جوړیږي<br><br>د کمېسیون د واکونو او رول په اړه د خلکو د درک د ښه والي په موخه د مالوماتي اړیکو وسایل او سر چېنې پراختیا مومي. | ورکشابونه ښوونیزې غونډي علمي سیمینارونه او خبرتیایي غونډي جوړیږي<br><br>د بشري حقونوپروګرامونو مشورو او سر چېنو ته عامه لاسرسي د مختلفو لارو د کمېسیون د سرچېنو د مرکزونوپه شمول تامین کېږي.<br><br>روزنه، تخصص او سرچېنې د بشري حقونو د درسي پروګرامونو د طرحې د ملاتړپه موخه په ښوونځیو ، پوهنتونونو ، د ښوونکې د روزنې موسسو ، دیني، قضایي، تقنیني، نظامي او د بولیسوپه روزنیزو مرکزونو کې چمتو کیږي.<br><br>د بشري حقونو د مسایلوپه اړه د رسنیو پوښښ او د راډیویي او تلویزیوني خپرونو ، خپرول زیاتیږي<br><br>د بشري حقونو او د اسلام مقدس دین تر منځ د مشترکاتوپه ګډون د بشري حقونو د مسایلوپه اړه د عامه بحثونو زیاتوالي.<br><br>دمدني ټولني د ظرفیت له ودې ملاتړ کیږي چې د بشري حقونوخبرتیایي او ښوونیز پروګرامونه او فعالیتونه په اغیزمنه توګه اجرا کړي. | د کمېسیون د کارکوونکو د تخصص او پوهې د پراختیاپه موخه ښوونیزفرصتونه او مالوماتي وسایل پراخیږي.<br><br>زیات شمیر تدبیرونه پلي کیږي چې بې برخې ډلې لکه ښځې. قومي، دیني، او ژبني لږکي به کمېسیون کې د کارکولو لپاره غښتلي شي.<br><br>د څارنې په موخه د کړنو ، ارزونې او د کار د بایلو د راپور ورکولو لپاره په کمېسیون کې مدیریتي سیستمونه رامنځته کیږي.<br><br>د مدني ټولنو بنسټونو او د دولت اړوند وزارتونوکې د بشري حقونو څانګو څخه د فني او ښوونیز ملاتړ زمینې چمتو کیږي. | د مدني ټولنې، ملي شورا او ولایتي شوراګانو له غړو سره ګډ فعالیتونه او د غړ اوچتولو شبکې رامنځته او ټینګښت مومي<br><br>د تقنیني نظرونو او بیا کتنې له لارې د قانون جوړونې به بهیر کې ګډون زیاتوالې مومي<br><br>پر دولت فشار راوړل کیږي، وړاندیزونه ورته وړاندې کیږي او د هغې څخه د پخلاینې، سولې او عدالت د پروګرام په تطبیق کې ملاتړ کیږي.<br><br>د ورکړل شویو راپورنوپه اړه ویناوي او نظریې د ملګرو ملتونو ټولنې، د بشري حقونو شورا ، ملګرو ملتونو سره تړلو موسسو ، نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونوته وړاندي کیږي. | په ملي اونړېواله کچه څارنیز، څیړنیز، وضعیتي او موضعي پرتلیز راپورونه چمتو او خپریږي<br><br>د فساد پوري د اړوندو قضیو د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو او دبشري حقونوپه تحقق کې دهغو د اغیز به موخه نوي جوړښت رامنځته کیږي<br><br>په زندانونو ، څارځایونه، د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکزونو ، د ښځو او ماشومانو د امن ځایونو ، عدلي او قضایي اورګانونوکې د بشري حقونو د ملاتړ او رعایت په موخه په منظمه توګه څارنه ترسره شوي ده.<br><br>د ټاکنوپه بهیر کې د سیاسي او مدني حقونو د ریشتیاینې او عامه رپوټونو د ارزونې په موخه، سیمه ییزه څارنه تر سره کېږي.<br><br>پر اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو سیمیزه څارنه د اساسي حقونوپه ګډون، د اساسي حقونو تامین لکه دزده کړې حق، د روغتیا حق، د خوړو حق، او د افغانستان د پراختیا او به ملي او نړېواله کچه د دولت لخوا د بشري حقونوپه اړه د ژمنو او دندو د اجرا به اړه د عامه خبرتیا لپاره بر راپور ورکولو د سیمه ییزې څارنې په مټ به منظمه ارزونه تر سره کېږې.<br><br>هغه قضیې چې د خلکو په تیره بیا د زیامنونکو کسانو د عادلانه محکمې حق تر پښو لاندې شوي وي په پرله پسې ډول تعقیب او څارل کیږي. |

# دکارکړنې (تګلارې) دمیچونې اډانه
# د افغانستان دبشري حقونو خپلواک کمېسیون سټراټیژیک پلان 1392-1389

| بریاوې/ موندنې | شاخصونه | اوسني وضعیت | غوره وضعیت | مالوماتي سرچینې | دمالوماتو راټولو لارې | مسوولیت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **1 سټراټیژیکه موخه: مشرتوب** | | | | | | |
| **بریاوې** | | | | | | |
| د کمېسیون اعتبارپه هیواد کې دبشري حقونو د پراختیا د ملاتړ د محوري مرجعي په توګه پیاوړتیا مومي | د بشري حقونو څخه د دود او ملاتړ لپاره کمېسیون ته د بشري حقونو د ملي او نړیوالو اورګانونو د مراجعي کچه | د کمېسیون ځاي د بشري حقونو د مسایلو د تخصصي مرجعي په توګه په کافي اندازه تثبیت شوي نه دي. د اوس لپاره د بشري حقونو ملي او نړیوال اورګانونه دICCپه ګډون کمیسون ته مراجعه کوي. | د۱۳۹۲ کال تر پایه کمېسیون ته په افغانستان کې د بشري حقونو د پر مختللي مرجع په توګه درناوي کېږي ۱۳۹۲ کال تر پایه د بشري حقونو ملي او نړیوال اورګانونه لا ډیر کمېسیون ته د تجربو د شریکولو او مشورولپاره مراجعه کوي. | د ICC سندونه، دیوناما رپوټونه، د ملګرو ملتونو، د اروپا اتحادیې، نړیوالي ټولني د کمېسیون رپوټونه او اسناد | درپوټونو او سندونو کتنه | کمشنران، د څارني او ارزونې څانګه، دڅېړنې او پلان جوړونې څانګه، د ملي راپور ورکولو څانګه د مالوماتو د بانک څانګه او پروګرامي اړونده څانګې. |
| دولت مدني ټولنه او ټول ملي او نړیوال همکاران د کمېسیون په موندنو، مالوماتو او تخصص اتکا او تکیه کوي | د کمېسیون د نظرونو او وړاندیزونو شمېره چې د حقوقي مسایلوپه اړه دولت یې غوښتنه کوي او دولت ته وړاندې کېږي. د مدني ټولنو د غوښتنو شمېره د مرستي او ملاتړلپاره | د کمېسیون ریپوټونه محدودي اغیزي لري او دولت، مدني ټولني رسنۍ او نور همکاران یې په محدوده بڼه هغه ګوري او ورته رجوع کوي. | د۱۳۹۲ کال تر پایه دولت، مدني ټولنه رسني او ملي او نړیوال ګډونوال د کمېسیون له مشورو، موندنو او رپوټونو څخه نقل قول کوي او هغه غواړي. | د رسنیو رپوټونه او خپروني / مدني ټولني / د ملګرو ملتونو سازمانونه، د کمېسیون د رپوټونو او مشورولپاره غوښتنلیکونه | د ملي او نړیوالو همکارانو ،مدني ټولنو او دولت سره پر مشورو او رپوټونو کتنه. | د خپرونو او رسنیو څانګه، دارزوني او څارني څانګه او پروګرامي اړونده څانګې. |
